مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۸ د تلې ۲۱مه | د ۲۰۱۹ د اکتوبر ۱۳مه | ۴۴۳مه گڼه

پوهنتون
۴ مخ

## غرجستان پوهنتون

غرجستان پوهنتون ۲۸ دايمي استادان لري، چې له دولې يې شپږ ښځينه او پاتې نور نارينه استادان دي. د استادانو ډېره برخه يې د دوکتورا تر کچې لوړې زده کړې لري.




# په اتلسو کلونو کې د لومړي ځل لپاره؛

## وکيلانو د شخصي گټو په پاړ په نيمه شپه بېړنۍ غونډه وکړه


۳

ټاکنيزه لانجه کوم لوري ته روانه ده؟
۲ مخ

«خلوېښت کاله په توپان کې»؛ يو متفاوت روايت
۲ مخ

خستگی تصمیم گیری چیست و چطور با آن مقابله کنیم؟
۵ مخ

## نړيوال بانک له افغانستان سره د انرژۍ په برخه کې نږدې ۱۰۰ ميليونه ډالر مرسته کوي




نړيوال بانک په افغانستان کې د ۹۸.۸ ميليونو ډالرو په ارزښت، د مالي مرستې يوه نوې ټولگه د انرژۍ په برخه کې د دوو خصوصي پانگونو د تضمين، يوه پور او له طبيعي گازه د انرژۍ د توليد د دوو پروژو د اړتيا وړ امکاناتو برابرولو لپاره منظور کړې ده. د ياد بانک لهخوا پژواک ته په لېږل شوي خبرپاڼه کې راغلي، د دغو پروژو هدف له داخلي منابعو د انرژۍ د توليد کچې لوړول او د افغانستان د انرژۍ په سکټور کې د خصوصي پانگونو هڅول دي. سرچينې زياته کړې، د نړيوالې پراختيا اداره د نړۍ تر ټولو بېوزلو هېوادونو لپاره د نړيوال بانک گروپ د وړيا مالي مرستو څانگه، د ۱۲.۸ ميليونو ډالرو په ارزښت يوه مالي ټولگه د شبرغان له گازه د انرژۍ توليدولو پروژې د پانگونې د تضمين لپاره برابروي.
نړيوال بانک ويلي، په ورته وخت کې د مزارشريف له گازه د انرژۍ توليدولو پروژې د ملاتړ لپاره د مالي مرستو ټولگه هم ځانگړې شوې ده.

## تركمنستان: د افغانانو ترمنځ د خبرو اترو منځگړيتوب ته چمتو يو

د افغان سولې لپاره په کور دننه او بهر د هڅو په لړ کې د ترکمنستان ولسمشر ويلي چې هېواد يې د افغان سولې مذاکراتو منځگړيتوب لپاره تيار دی.
د دغه هېواد ولسمشر بردي محمدوف چې د همگټو هېوادونو غونډې ته وينا کوله، ويلي چې دوی له ملگرو ملتونو او نورو نړيوالو سازمانونو سره په همکارۍ، د افغانانو ترمنځ د خبرو اترو منځگړيتوب ته چمتو دي. هغه ويلي: «ترکمنستان د افغانستان د يوه گاونډي په حيث په افغانستان کې د ثبات د ټينگښت په لټه کې دی، موږ له ملگرو ملتونو او نورو نړيوالو سازمانونو سره په همکارۍ د افغانانو ترمنځ د خبرو اترو منځگړيتوب ته چمتو يو، خو افغان لوری به اصلي نقش لري». په ورته مهال د تاجکستان او ازبکستان ولسمشرانو هم په دې ناسته کې د افغانستان پر وضعيت او د سيمې پر هېوادونو يې د اغېز په تړاو اندېښنه ښودلې ده. د تاجکستان ولسمشر ويلي چې د همگټو او ازادو هېوادونو مشران دې په سيمه کې په تېره په افغانستان کې امنيتي خطراتو ته متوجه وي. په ورته وخت کې د ازبکستان ولسمشر دې غونډې ته ويلي چې د افغانستان امنيتي وضعيت د سيمې نورو هېوادونو ته د اهميت وړ مسئله ده. د دغه هېواد ولسمشر شوکت ميرضيايوف زياته کړې: «موږ په ځانگړې توگه افغانستان کې د تحولاتو په تړاو اندېښنه لرو، د افغانستان اوضاع شمالي هېوادونو ته د اهميت وړ مسئله ده». د ترکمنستان ولسمشر داسې مهال د افغان سولې مذاکراتو لپاره منځگړيتوب ته د چمتووالي خبره کوي، چې طالبانو ته نږدې کسان وايي، د متحده ايالتونو او طالبانو ترمنځ د سولې مذاکرات د ولسمشرۍ ټاکنو د پايلو د اعلان تر وخته ځنډېدلي دي.

## د ټاکنو په خپلواک کمېسيون کې ځينې کړۍ د ارگ په گټه کار کوي



۵ مخ

## پارلمان ناتو در مورد وضعیت افغانستان بحث میکند



پارلمان ناتو در مورد وضعیت افغانستان، اوکراین و ایران بحث میکند و بخاطر اشتراک در این نشست، یک هیئت پنج نفره از اعضای ولسی جرگه، وارد لندن شده است.
در یک اعلامیه که از سوی پارلمان ناتو نشر شده، آمده است که این نشست در لندن آغاز شده است.
منبع افزوده است که در پهلوی دیگر موضوعات از جمله؛ روابط روسیه با ناتو، قضیه اتومی ایران، موضوع اوکراین و بر ماموریت آینده ناتو در افغانستان نیز گفت‌وگو صورت می گیرد. در خبرنامه آمده است که در این نشست؛ جیمز ستولتنبرگ سرمنشی ناتو، شماری از وزرای بریتانیا، مسئولین نظامی ناتو و بریتانیا و دیگر مسئولین اشتراک کرده اند.
بخاطر اشتراک در این نشست، یک هیئت پنج نفره از اعضای ولسی جرگه به لندن رسیده است.
انجنیر کمال ساپی عضو ولسی جرگه که در این نشست اشتراک کرده است، در صفحهٔ فیسبوک خود نوشته است: «تلاش میکنیم که از کشور خود خوب نماینده گی نماییم».
وی افزوده است که در کمیته امنیتی و دفاعی این نشست، به وی چانس سخنرانی نیز داده شده است.
این در حالی است که بعد از اعلام ملغا شدن گفت‌وگوهای صلح بین حکومت ایالات متحده امریکا و طالبان بار دیگر جنگ ها در افغانستان شدت گرفته است.


# اعلان!

شرکت طلوع آرمان شهر می خواهد یک مقدار اجناس را که شامل تلویزیون، لوازم برقی، فرنیچر، پرینتر، کمپیوتر و پرزه جات موتر میشود، را در یک پروسه مزایده لیلام نماید.
تمام داوطلبان واجد شرایط که علاقمندی اشتراک در این لیلام را داشته باشند، میتوانند به شماره تلیفون ۰۷۹۹۳۰۵۰۲۰ در تماس شده، شرطنامه را ملاحظه کرده، فورم ثبت نام را خانه پری نموده و الی ختم روز یکشنبه تاریخ ۲۱ میزان سال ۱۳۹۸ به آدرس الکترونیکی این شرکت ارسال نمایند.
ثبت نام از طریق آدرس الکترونیکی ذیل صورت می گیرد:
info.tasl.company@gmail.com
محل برگذاری و تاریخ لیلام بعداً از طریق تلیفون اطلاع داده میشود.

## درېځ

### ټاکنیزه لانجه کوم لوري ته روانه ده؟


د ثبات او همپالنې ټیم تازه ادعا کړې چې په ارگ پورې تړلې ځینې کړۍ په ټاکنو کمېسیون کې د دولت جوړوونکي ټیم په پلوۍ کارونه کوي او هڅه کوي چې ناسمې رایې سیسټم ته داخلې کړي. د دغه ټیم مرستیال اسدالله سعادتي ادعا کړې چې سیسټم ته ناسمې رایې داخلېږي او که دا چاره ونه درول شي، دوی به سخت غبرگون وښیي. له دې سره هممهاله ادعا شوې چې د سیمې ځینو هېوادونو هڅه کړې چې د درملوگ کمپنۍ له‌خوا جوړ شوی سیسټم هک کړي. د درملوگ کمپنۍ یوه مسلکي کس دا خبره تایید کړې او ویلي یې دي چې اوس یې د دې چارې مخه نیولې ده.

د ټاکنو کمېسیون لا هم ټینگار کوي چې غیر بایومټریک رایې نه حسابوي او پاکې رایې به له ناپاکو جلا کوي او بیا به پایله اعلانوي، خو لا هم د کمېسیون پر کړنو شکونه شته او هلته ځینې کړۍ تورنېږي چې د یوه ټیم په گټه کار کوي. که څه هم ټاکنیز ټیمونه به د پروسې د ټولو پړاوونو څارنه کوي، خو دا چې سیسټم برېښنایي او تخنیکي دی، نو ځکه سم څار ستونزمنېږي.

له بله اړخه د ټاکنو کمېسیون لا هم خلکو ته د شته ستونزو په تړاو سم معلومات نه ورکوي. د ټاکنو له ورځې تر اوسه پورې بیا بیا هڅه شوې چې د معلومات ملي مرکز ته ستونزې پیدا شي. ځینو هېکرانو هڅه کړې چې سیسټم ته ننوځي او هلته غیر بایومټریک رایې سمې وښیي او ویل کېږي چې ځینې یې تر یوه بریده بریالي شوي هم دي. دغه راز تایید شوې چې د سیسټم د هک کولو هڅه شوې ده او آن یو بهرنی هېواد پر دې چاره تورن شوی دی. که څه هم درملوگ یوازې یو نړدې اسیایي هېواد یاد کړی، خو د هند نوم اخیستل کېږي چې گواکې هېکرانو یې په منظمه توگه هڅه کړې، چې سیسټم ته ننوځي. له همدې امله مرکزي ډېټاسنټر ته د معلوماتو په لېږد کې ستونزې وې او آن په ډراماتیک ډول د کابل- جلال اباد په لاره د نوري فایبر لینونه هم پرې شول. له دې ټولو ښکاري چې یو ټیم په مشخص ډول له دې وېره لري چې غیر بایومټریک رایې به یې حساب نه شي او په دې ډول به دوی بریالي نه شي چې په لومړي پړاو کې ټاکنې وگټي.

له بله اړخه په سیاسي برخه کې هم ستونزې او هلې ځلې روانې دي. دواړه دولتي ټیمونه سیاسي لیدنې او کتنې لري. دوی هڅه کوي چې د هغو کسانو ملاتړ را خپل کړي چې په ټاکنو کې یې برخه نه ده اخیستې. دوی دغه راز هڅه کوي چې د گلبدین حکمتیار په شمول، د نورو کاندیدانو ملاتړ هم را خپل کړي. له همدې امله منظمې لیدنې او کتنې روانې دي. آن داسې ویل کېږي چې بهرني ډیپلوماتان د یوه ټیم لپاره منظمه لابي کوي او هڅه کوي چې سیاسي ملاتړ ورته پیدا کړي.

دغو ټولو مسایلو ته په پام سره ټاکنیزه لانجه لا پېچلې کېږي. سیاسي او تخنیکي ستونزې او هڅې به لا هم روانې وي او په دې ډول ستونزه پراخېږي، خو د څه چې اټکل کېږي، هغه دا دي چې ښایي ټاکنې دویم پړاو ته ولاړې شي او بیا هم د پایلو اعلان د یوې بلې لانجې او بحران سبب شي.




# «څلوېښت کاله په توپان کې»؛ یو متفاوت روایت

لیکنه: ذاکر جلالي

«څلوېښت کاله په توپان کې» د پخواني ولسمشر حامد کرزي د دفتر رییس او د اطلاعاتو او فرهنگ پخواني وزیر ښاغلي عبدالکریم خُرم اثر دی، چې تازه د کتاب لوستونکي کهول لاسونو ته رسېدلی. له نیکه مرغه له څه مودې راهیسې په افغان سیاستوالو کې د یادښت لیکلو فرهنگ په دود کېدو دی. له دې وړاندې د ډاکټر سپنتا کتاب راغی او له روان توپانه یې خپل روایت او مشاهده له خلکو سره شریکه کړه. د حامد کرزي په ټیم کې سپنتا او خُرم دوې هغه څېرې وې، چې نظریات یې په بشپړ ډول یو د بل بر عکس وو. په دې اساس د سپنتا د کتاب په شتون کې د ښاغلي خُرم د کتاب اړتیا ډېره محسوسه وه، چې له نیکه مرغه دا تشه ډکه شوه. یوه څېړونکي ته هم دا ډېره په زړه پورې وي چې د یوې مسئلې په تړاو د دوو شاهدانو دوه روایته ولولي. دا چاره د حقایقو په راسپړلو کې ډېره گټوره ثابتېږي.

«څلوېښت کاله په توپان» کې نږدې اوو سوو مخونو کې لیکل شوی. په دې پنډ کتاب کې د لیکوال له کوره نیولې، تر مبارزې، جهاد، زده کړو او سیاسي فعالیتونو او د سترگو لیدلو حالتونو پورې پر مهمو مسایلو بحث شوی دی. هغه څه چې کتاب ډېر په زړه پورې کوي، له یوې خوا د لیکوال فرهنگي طبیعت دی چې په کتاب کې هم لولو چې له ځوانۍ یو فرهنگي دی، کتاب لولي او مقاله لیکي او د دې ذوق تر څنگ یې لوړې زده کړې هم د فرانسې په معتبر پوهنتون کې په نړیوالو مطالعاتو کې کړې دي. له بلې خوا لیکوال د نورو سیاستوالو پر خلاف، د هر هغه څه یې چې لیدلي، د ویلو او لیکلو جرئت لري. نو په دې اساس لیکوال هم د یوه فرهنگي او څېړونکي او ځیرونکي انسان په توگه له حقایقو ښه درک لري او هم د خپل تحلیل او ارزونې د لیکلو او خپرولو جرئت. دې چارې د کتاب ارزښت لا زیات کړی.

په دې مقاله کې د کتاب پر هغو موضوعاتو بحث کېږي، چې د مقالې لیکوال ته مهم برېښي.

**د کلي او ښار ټکر**

«څلوېښت کاله په توپان کې» په ډېر په زړه پورې ډول د یوه ښاري او نسبتاً هوسا ژوند لرونکي ځوان په کیسه پیلېږي. د لیکوال په خبره، دی خپله په یوه داسې کورنۍ کې ستر شو چې هم یې د اطرافو او کلیو له خلکو سره اړیکې وې او هم له ښاري په اصطلاح غربگرا او اشرافي هغو سره. د لیکوال کورنۍ او په تېره په خپله لیکوال د افغانستان د ښار او کلي د ټکر تر ټولو عملي مثال دی. د افغانستان د څلوېښت کلن ناورین یو تفسیر همدا د کلي او ښار توپیر دی. په پلازمېنه کابل کې مېشتو د نوې نړۍ له افکارو سره اشنا شوو ځوانانو ته د کلي‌والو ژوند او کلتور د وروسته پاتې‌والي نښه بلل کېده. کلي‌والو ته ښاریان د بې‌دینۍ او پردي فرهنگ مثالونه وو. زموږ روان ناورین هم له همدې تفاوته پیلېږي. زموږ ښاري او کلي‌وال کلتورونه د جگړو په مختلفو پړاوونو کې ډېر نومونه ځان ته خپل کړي دي. د ښاغلي خُرم کتاب کې د همدې ټکر لوی بحث په ډېر ظرافت سره مطرح شوی او لوستونکی تر پایه د دې مسئلې اغېز احساسوي. دا چې یو ښاري او تعلیم یافته ځوان چې هوسا ژوند لري، دا پوښتنه راپورته کېږي چې ولې د ښاري مسلطو ارزښتونو پر ضد درېځ نیسي او د کلي وال مقاومت برخه کېږي. ځوان په دې مبارزه کې دومره مخکې ولاړ شي، چې له څو ځلې زندانونو گاللو وروسته، له ښاره کلي ته ولاړ شي او وروسته وطن پرېږدي او د یوه لوی مقاومت برخه کېږي. په دې اساس د کتاب دغه ډول ظریف پیل د افغانستان د روان کړکېچ لوی انځور لوستونکي ته په ډېر ښه ډول بیانوي. مگر دا د کتاب مرکزي بحث نه دی. هغه څه چې د ښاغلي خُرم کتاب له نورو لیکنو او یادښتونو بېلوي، له روان کړکېچه د ده متفاوت روایت دی چې د وخت په تېرېدو سره زموږ په ملي او سیمه ییز او نړیوال سیاست کې یې نښې ورځ تر بلې ښکاره کېږي.

**د سپټمبر یوولسمه او د ترهگرۍ پر ضد جگړه**

د کتاب په ۱۴۴م مخ کې لیکوال د سپټمبر له پېښو وړاندې د افغانستان په تړاو د امریکا د پایپ‌لاینونو د سیاست په تړاو بحث کوي. هغه وخت د څېړونکو باور دا و چې امریکا د منځنۍ اسیا زېرمو ته سترگې پټې کړې دي او لېوالتیا لري چې د افغانستان له لارې دغو سرچینو ته لاسرسی پیدا کړي. دا چې څنگه امریکایي یونیکال او ارجنټاینې بریډاس کمپنیو په خپلو کې د دغو زېرمو په اړه سیالي کوله، هر اړخیز بحث شوی. د دغو هڅو په لړ کې ملگرو ملتونو د ۲۰۰۱ ز کال د جولای له ۱۷مې تر ۲۰مې په برلین کې ناسته رابللې وه. په ۱۴۷م مخ کې لولو: «امریکایانو په دې ناسته کې ژمنه وکړه چې د پراخ بنسټه حکومت د جوړېدو په صورت کې به له افغانستان سره پراخې نړیوالې مرستې وشي او د پایپ‌لاینونو د رغولو کار به هم پیل کړي. په دې ناسته کې نیاز نایک چې د پاکستان استازیتوب یې کاوه، د امریکایي سفیر ټام سیمون له خولې وویل چې له دې پرته امریکا چمتو وه چې له ځواکه هم کار واخلي». د لیکوال له نظره، دا په دې مانا ده چې واشنگټن د سپټمبر یوولسمې له پېښو وړاندې، لا دا شونې بلله چې په افغانستان کې پوځي مداخله وکړي او د طالبانو پر ضد پوځي ځواک وکاروي. دا مهم بحث دی چې که د سپټمبر یوولسمې پېښې نه وای شوې، متحده ایالاتو به پر افغانستان برید نه کاوه؟ یا که د اسامه بن لادن قضیه نه وی، امریکا به برید نه وای کړی؟ پخوانی طالب چارواکی عبدالحی مطمئن په خپل کتاب «ملا محمد عمر؛ طالبان او افغانستان» کې لیکي چې په ۱۹۹۹ ز کال کې د طالبانو حکومت اعلان وکړ چې اسامه له افغانستانه وتلی دی. کله چې دا خبر د حقیقت تر بریده خپور شو، د امریکا د بهرنیو چارو وزارتویاند جیمز رابن وویل: «که اسامه له افغانستانه ولاړ هم شي، د طالبانو په اړه به زموږ په تگلاره کې بدلونه رانه شي». د مطمئن په خبره، له دې وروسته د طالبانو زړه ته دا ولوېده چې د امریکا برید حتمي دی او د اسامه او القاعدې له مسئلې سره حتمي تړاو نه لري. (۲۱۹)

په هر صورت، د سپټمبر یوولسمې پېښو امریکا ته فرصت برابر کړ چې پر جگړه ځپلي افغانستان یرغل وکړي او په دغه مهمه ستراتیژیکه سیمه کې تر اوږدو کلونو پوځي حضور ولري. امریکا په ښکاره د سپټمبر د پېښو په غبرگون کې د ترهگرۍ د ځپلو په پلمه پر افغانستان یرغل وکړ. د سپټمبر له پېښو وروسته حالت داسې د امریکا له ستراتیژیکو موخو سره مرسته وکړه، چې ان د امریکا سرسختو حریفانو هم پر افغانستان د امریکا له یرغل سره مخالفت ونه کړ. په افغانستان کې لس کلنې کورنۍ جگړې، د طالبانو د واکمنۍ ځینو سیاستونو او په ټوله کې د سولې تت انځور ځینې افغانان د امریکا په شتون کې راتلونکي ته هیله‌من کړل. ښاغلی خُرم یو له هغو افغانانو و چې د بُن په ناسته کې یې گډون وکړ او راتلونکي ته هیله‌من و. پر دوی سربېره، ان د امریکا سیالو ځواکونو هم د امریکا دغه پوځي مداخله په خپله گټه بلله.

د سپټمبر له پېښو وروسته، د امریکا په مشرۍ د ترهگرۍ پر ضد د جگړې په تړاو دوه بحثه مطرح دي. یو دا چې امریکا د یو ترهگریز برید هدف شوه او پرېکړه یې وکړه چې د ترهگرو ډلو پر ضد جگړه پیل کړي. دویم بحث دا دی چې متحده ایالاتو د ترهگرۍ د گواښ له شتونه د خپلو ستراتیژیکو اهدافو لپاره گټه پورته کړه او ترهگري یې د یوې وسیلې په توگه وکاروله او په تېرو اتلسو کلونو کې یې د خپلو سترو اهدافو لپاره په افغانستان کې د جگړې زمینه برابره کړه. «څلوېښت کاله په توپان کې» دویم روایت لولو. لیکوال د کتاب په اوږدو کې د خپل روایت د حمایت لپاره کافي دلایل او د سترگو لیدلې صحنې او بحثونه له لوستونکو سره شریکوي.

**کمزوری افغانستان او د امریکا سیمه‌ییز سیاستونه**

په افغانستان کې د یوه کمزوري، په فساد کې ښکېل او وېشلي حکومت رامنځ ته کول د امریکایانو د سیاستونو برخه وه. حامد کرزی هم همدغه باور ته رسېدلی و چې امریکایان په لوی لاس د افغانستان لپاره یو کمزوری او لړزانده حکومت غواړي. همدا د کرزي او امریکایانو د اړیکو د خړپړتیا عمده لامل شو. په ۲۸۰یم مخ کې لولو چې متحده ایالاتو د ۲۰۰۹ ز کال په ټاکنو کې هڅه کوله چې پخوانی ولسمشر کرزی دې ته اړباسي، څو د «اجراییه ریاست» په نوم نوی پوسټ په حکومت کې جوړ کړي. د لیکوال په باور، «د افغانستان د ادارې کمزورې کول، د خاصو اهدافو لپاره کېدل. دا طرحه وروسته په ۲۰۱۴ ز کال کې عملي شوه چې موږ یې بدې پایلې ولیدې». د لیکوال اشاره د ۲۰۱۴ ز کال په ټاکنو کې د امریکا د مداخلې په پایله کې د اجراییه ریاست څوکۍ رامنځ ته کولو ته ده، چې ټوله پنځه کلنه دوره د ولسمشر او اجراییه رییس ترمنځ په ناندریو کې تېره شوه.

د دې بحث په دوام کې لیکوال په ۲۸۰ او ۲۸۱یمو مخونو کې لیکي: «امریکایان افغانستان ته له راتگ او له څه مودې وروسته، د افغانستان د سیاسي ثبات، قوي ادارې او ډیموکراسۍ پر ویجاړوونکو واوښتل». د لیکوال له نظره، د امریکایانو سیمه‌ییزو سیاستونو ایجابوله چې افغانستان باید داسې یو ځواکمن او پر خپل کورني وضعیت حاکم دولت نه وي. ښاغلی خُرم وایي چې د ده او ولسمشر تحلیل همدا و. که څه هم د کتاب په اوږدو کې په واضحو ټکو په دې اړه څه نه دي ویل شوي چې د افغانستان او متحده ایالاتو گټې په کومو مشخصو برخو کې په ټکر کې وې، چې امریکایانو هڅه کوله څو افغانستان یو کمزوری حکومت ولري؛ مگر کله چې د کتاب مختلف بحثونه سره وتړو، دا نتیجه ترې اخیستل کېدای شي چې امریکایانو د افغانستان د ناامنه کولو له لارې غوښتل ټوله سیمه، چې د امریکا سیال قدرتونه په کې موقعیت لري، ناامنه او د کړکېچونو ښکار کړي. امریکا ته په وروستي سفر کې په یوې ماښامنۍ کې ولسمشر کرزی له امریکایي مشهور ستراتیژیست زبگنیف برژنسکي سره د هغه د «کړکېچ کړۍ» نظریې په اړه بحث کوي. د «کړکېچ کړۍ» د نظریې پر بنسټ امریکا د خپل حریف شوروي اتحاد شاوخوا افراطي کړۍ ځواکمنې کړې. برژنسکي د خپلې نظریې په دفاع کې وایي: «د ترهگرۍ او مذهبي افراطیت وده د هغه خطر په پرتله ډېر لږ ده، چې شوروي اتحاد هغه مهال رامنځ ته کړی و». (۴۵٦مخ)

پخوانی ولسمشر د همدې تحلیل پر بنسټ له امریکایانو سره په ډېرو برخو کې، په تېره د امنیتي تړون په بحث کې د نظر اختلاف پیدا کوي او د ښاغلي خُرم په خبره، «حامد کرزی په تدریج امریکا ته له یوه لېواله شخص څخه لومړی په منتقد او وروسته حتی په مخالف بدل شو». (۳۰۳مخ)

له امریکایانو سره د ښاغلي کرزي د اختلاف بله مسئله شپني عملیات او د افغانانو زنداني کول وو. د ۲۰۱۲ ز کال د فبرورۍ په ۱۹مه دوه مشهور امریکایي سناتوران جان مکین او لنډزي گراهام کابل کې له کرزي سره گوري. دغه دوه تونددلاري او د جگړې پلوي امریکایي سناتوران وو چې د افغانستان په مسئلو کې یې ډېره مداخله کوله. گراهام حامد کرزي ته وویل: «د شپنیو عملیاتو له زیاتېدو سره موږ هره میاشت له سلو زیات کسان زنداني کوو او د دوی د ساتنې لپاره سلگونه میلیونه ډالر مصرفوو». (۳۳۰مخ)

حامد کرزی د هغه په ځواب کې وایي چې که امریکا رښتیا هم د ترهگرۍ ځپل غواړي، د هغوی پر اصلي مرکزونو باندې دې تمرکز وکړي او زیاتوي چې: «دغه ډول کړنې افغانانو ته دا احساس ورکوي چې گواکې خپلواکي یې اخیستل شوې ده....افغانان غواړي د امریکا دوستان واوسي؛ خو خپلواک، نه غلامان». له امریکایي لوري سره د شپنیو عملیاتو او افغانانو د زنداني کولو په تړاو بحثونو کې دا صحنه ډېره حیرانوونکې ده، چې د ولسمشر د ملي امنیت سلاکار د ولسمشر مخالفت کوي او په زغرده ورته وایي چې د شپنیو عملیاتو پلوی دی. پر همدې موضوع ولسمشر له امریکایي قومندان جنرال جان الن سره یو تریخ بحث کوي. جنرال عصباني کېږي او ولسمشر کرزی ورته وایي: «افغانستان باید له اشغاله خلاص شي». (۳۴۰مخ)

**له ملي حاکمیت سره لوبې**

له امریکایانو سره د افغان حکومت په اړیکو کې یو له ډېرو قرباني شوو ارزښتونو څخه د افغانستان د ملي حاکمیت اصل و. که څه هم په دغو بحثونو کې لیدل کېږي چې ولسمشر کرزي خپله وروستۍ هڅه کوله چې د افغانستان ملي حاکمیت ښه وساتل شي؛ خو امریکایي لوري ته زموږ حاکمیت کوم ارزښت نه درلود. په ۲۰۱۲ ز کال کې چې د افغان حکومت له پر له پسې هڅو وروسته، بارک اوباما کابل ته د ستراتیژیکو همکاریو د موافقتنامې د لاسلیک لپاره ارگ ته راغی، امریکایان غواړي له افغان ولسمشر... ۳مخ

# «ځلوېښت کاله په توپان کې»؛ ...

پرته ټول چارواکي، د ولسمشر د مرستيالانو په ګډون، تالاشي کړي. د ولسمشرۍ مرستيالان مجبوره کېږي او له ارګه وځي.
د کتاب په ۲۲٦م مخ کې لولو چې په کابل کې د امريکا د وخت سفير ويليام ووډ د اطلاعاتو او فرهنګ پر وزير له دې امله نيوکې کوي، چې ولې يې په ملي ټلويزيون او نورو دولتي ورځپاڼو کې د ولسمشر هغه خبرې خپرې کړې دي، چې د امريکايانو هغه بمبارد يې غندلی چې ملکيان په کې وژل شوي دي. سفير په دې کار سره وزير له دښمن سره پر مرستې تورنوي!
پر دې سربېره، کتاب له داسې پېښو ډک دی چې امريکايي ملکي او پوځي چارواکي د افغانستان له ملي حاکميت سره په ځومره بې‌باکۍ چلن کوي.

**سيمه له خوشباورۍ تر بدګومانۍ**

د سپټمبر يوولسمې له پېښو وروسته، د ترهګرۍ پر ضد جګړه کې د امريکا پر نيت ان د امريکا تاريخي حريفانو لکه روسيې هم شک نه کاوه. د ۲۰۱۲ ز کال په جون کې چې ولسمشر کرزي په چين کې د شانګهای د همکاريو سازمان په ناسته کې د روسيې له ولسمشر پوتين سره ملاقات درلود، د امريکا د ترهګرۍ ضد ستراتيژۍ يې ناکامه او د سيمې لپاره ناامنه کوونکې وبلله. پوتين د حامد کرزي په ځواب کې ويلي وو چې متحده ايالات د ترهګرۍ ضد جګړه کې د بريا په لټه کې ده، دا به لېونتوب وي چې د پټنځايونو پر ضد يې اقدام نه کوي. پوتين زياته کړې وه چې هېواد يې د افغانستان په تړاو له متحده ايالاتو سره له هره اړخه همغږي لري. ايرانيان له هماغه وخته شکمن وو. د ايران د بهرنيو چارو وزير کابل کې کرزي ته ويلي وو، کله چې موږ خبر شوو چې امريکا په افغانستان کې له پنځو تر شپږو ستري اډې جوړوي، دا نو د طالبانو لپاره نه دي! (۴۰٦مخ)
نه يوازې روسيه په دې باور وه، بلکې د سيمې نورو هېوادونو هم د امريکا د ترهګرۍ ضد ستراتيژۍ په تړاو بدګوماني نه درلوده. مګر کله چې په ۲۰۱۵ ز کال کې په افغانستان کې د داعش د راپورته کېدو بحث د رسنيو سرټکی شو، ورو ورو د امريکا پر اهدافو او تګلارې بدګومانۍ زياتې شوې. د ۲۰۱٦ ز کال په ډسمبر کې روسانو د مسکو فارمېټ ناستو لړۍ پيل کړه چې په پای کې يې د همدغو ناستو په لړ کې طالبانو ته نړيوال ستېج په لاس کې ورکړ او د ۲۰۱۹ ز کال په فبروري کې د لومړنۍ بين الافغاني ناستې کوربه توب يې هم وکړ.

**افغان سوله او د بې‌باوريو اوج**

لکه څنګه چې په افغان جګړه کې د امريکا پوځي رول مرکزي او محوري و، دغسې په سوله او سياست کې هم د امريکا رول ډېر بارز و. دا په داسې حال کې و چې په وروستيو کلونو کې د حامد کرزي اړيکې له امريکايانو سره د بې باوريو په اوج کې وې. له بلې خوا له امريکايانو سره په تعامل کې کرزی په کور دننه هم يوازې و. د استاد رباني له ترور وروسته چې د حکومت لوړپوړي چارواکي له کرزي غواړي څو د سولې هڅو کې بدلون راولي، کرزی ټولو ته جوتوي چې څنګه د امريکايانو په تړاو يوازې و. د جلسو له ګزارشونو ښکاري چې د حکومت له لوړپوړو چارواکو سره دا اندېښنه وه چې له امريکايانو سره يې اړيکې خرابې نه شي. ډاکټر اشرف غني او ډاکټر سپنتا هغه دوه کسان وو چې له ملکي تلفاتو نيولې تر نورو ټولو مسئلو يې هڅه کوله، چې حامد کرزي ته يو ډول قناعت ورکړي څو له امريکايانو سره په هره مسئله کې جدي چلن ونه کړي.
په ۴۳۴م مخ کې لولو چې د سولې په تړاو د امريکايانو چلن متناقض و. د ليکوال په باور، کله چې په افغان حکومت کې سولې ته لېوالتيا زياتېده، د ناامنيو لړۍ ورسره زياتېده او په اصطلاح د طالب ضد رسنيو او څېرو د اعتراض غږونه پورته کېدل. دا ډېر مهم بحث دی. هغو څېرو چې پخوا يې له طالبانو سره ان خبرې اترې هم جرم بللې، د ۲۰۱۸ ز کال په سپټمبر کې چې د زلمي خليلزاد په مشرۍ له طالبانو سره د مذاکراتو کومه لړۍ پيل شوه، نه د دغو څېرو مخالفت وليدل شو او نه هم د رسنيو. ډېره واضحه ښکاري امريکايان چې څه غواړي، په څومره اسانۍ ورته زمينه سازي او ذهنيت سازي کولای شي.
له يوې خوا د امريکايانو پر کړنو شکونه او له بلې خوا د سولې بحث...دې چارې ولسمشر کرزی په سخت وضعيت کې واقع کړی و. کرزی پر دې باور و چې که د قطر دفتر له پرانيستې او د طالبانو او امريکايانو له خبرو سره مخالفت کوي، د سولې په مخالفت تورنېږي او که ورسره هوکړه کوي، په باور يې «هېواد تجزيې» ته ځي. د سولې په بحث کې ډېری ځای ليدل کېږي چې د کرزي اندېښنه د افغانستان له تجزيې ده، مګر داسې واضح څه نه ښکاري چې د کومو شواهدو او دلايلو پر بنسټ د سولې بهير يا له طالبانو سره خبرې اترې د افغانستان د تجزيې لامل کېدلې.
په ټوله کې د سولې په بحث کې حامد کرزی په دې نظر برېښي چې ګومان کوي ټوله لوبه پاکستان او امريکا له طالبانو سره پيل کړې او افغان حکومت ګوښې پاتې شوی. دا چې پاکستان څومره د سولې په بحث کې مرکزي لوبغاړی و، وروستيو پېښو او د پاکستان اندېښنو وښوده چې د پاکستان په تړاو مبالغه شوې وه. د همدې باور له امله، يو ځل ان کرزی له پاکستانيانو غواړي چې له ملا محمد عمر سره د ملاقات زمينه ورته برابره کړي. د کرزي له تکرار غوښتنو وروسته، د پاکستان لوی درستيز ژمنه کوي چې په څو اونيو کې به له ملا محمد عمر او يا يې هم له مرستيال سره د ملاقات زمينه ورته برابره کړي.
پاکستان په هېڅ صورت راضي نه و چې طالبان په قطر کې د پاکستان له اغېز لرې د سياسي دفتر څښتن شي. د قطر دفتر له پرانيستې سره د افغان حکومت مخالفت په حقيقت کې د پاکستان په ګټه تمامه شوه. وروسته وليدل شول چې قطر دفتر هغه دريځه شوه چې طالب پکې د پاکستان له اغېز او فشار لرې پرېکړې وکړې.
په ټوله کې، د ښاغلي خُرم کتاب د افغانستان د يوه حساس تاريخي پړاو په تړاو اول لاس معلومات تر لوستونکو رسوي. دا کتاب په راتلونکې کې له تاريخ ليکونکو سره د حقايقو په سپړلو او تحليل کې ډېره مرسته کولای شي. په پای کې له ښاغلي خُرم په مننې، له ټولو ځوانانو هيله کوم چې دا کتاب د مطالعې په کتار کې ونيسي.

# په اتلسو کلونو کې د لومړي ځل لپاره؛

## وکيلانو د شخصي ګټو په پار په نيمه شپه بېړنۍ غونډه وکړه



ولسي جرګې په تېرو اتلسو کلونو کې د لومړي ځل لپاره د شپې بېړنۍ ناسته رابللې او د کورنيو چارو وزير يې وربللی دی. دا بې سابقې غونډه ډېرى خلک د شخصي غوښتنو او ګټو لپاره جوړه شوې غونډه بولي او وايي، وکيلان د ملت د ستونزو پر ځای، د خپلو شخصي ګټو لپاره ان د شپې بېړنۍ غونډې هم رابللی شي.
د ولسي جرګې ځينې غړي خو بيا دغه غونډه غير قانوني بولي. غونډه د پوليسو او د ولسي جرګې د ځينو غړو ترمنځ د ناندريو له رامنځ ته کېدو وروسته رابلل شوې ده. نږدې سلو وکيلانو د کورنيو چارو سرپرست وزير مسعود اندرابي وربللی و او د ځينو امنيتي چارواکو د ګوښه کېدو غوښتنه يې کوله.
ورمه شپه د کابل ښار د نهمې امنيتي حوزې په مربوطاتو کې د ولسي جرګې د دوو غړو مريم سلېمانخېل او نريندر سنګهـ خالصه موټرونه د امنيتي ځواکونو د يوې پوستې له لوري درول کېږي. امنيتي سرچينې وايي چې موټرونو قانوني اسناد نه لرل، د استازو د ساتونکو وسلو جواز نه درلود او وکيلانو قانون ته درناوی نه کاوه. په کابل ښار کې د تورو ښېښو د سپينولو او غير قانوني موټرونو د درولو کمپاين له څو ورځو راهيسې پيل شوی، خو ورمه شپه وکيلانو د دغه کمپاين پر وړاندې غبرګون وښود. د کورنيو چارو وزارت وايي، پوليسو غوښتل د يادو وکيلانو د موټرونو ښيښې سپينې کړي، د موټرونو اسناد وګوري او د وسلو د جواز پوښتنه وکړي، خو وکيلانو د دوی پر وړاندې غبرګون ښودلی دی او د پوليسو دغه کار يې غير قانوني بللی دی.
تر يو ساعت ناندريو وروسته پوليس د وکيلانو له ساتونکو وسلې اخلي او په څو ساعتونو کې نور وکيلان هم دغه سيمې ته رسېږي. دوی له خپلو وسلو او ساتونکو په استفادې د څو ساعتونو لپاره د نهمې حوزې په مربوطاتو کې د تګ راتګ يوه مهمه لار د ترافيکو پر مخ تړي. عيني شاهدان وايي چې وکيلانو پر پوليسو د بريد ګواښ کاوه او تر اوږدو ناندريو وروسته يې د وکيلانو ساتونکي له پوليسو خلاص کړل. په همدې شپه د ولسي جرګې نږدې سل غړي د کورنيو چارو وزير پارلمان ته رابولي او له نوموړي د تېرې شپې د پېښې پوښتنه کوي. د کورنيو چارو سرپرست وزير ويلي چې دی به د قانون په رڼا کې پېښه څېړي.
د ولسي جرګې ځينې غړي وايي، کورنيو چارو وزارت په لوی لاس او پلان شوې توګه هڅه کوي چې وکيلانو ته سپکاوی وکړي، نو له دې امله د ځينو امنيتي چارواکو د ګوښه کېدو غوښتونکي دي. خو بلخوا د ولسي جرګې ځينې نور غړي دغه مسئله له شخصي عقدو، غوښتنو او ګټو را ولاړه شوې بولي او وايي، د قانون په رڼا کې دې وڅېړل شي. د ولسي جرګې غړی رمضان بشردوست وايي، وکيلانو څکه اعتراض کړی چې ولې قانون ورباندې عملي کېږي. بشردوست وايي: ((په نيمه شپه کې يې د قانون خلاف جلسه جوړه کړې وه، چې ولې قانون راباندې عملي کېږي؟ ولې مو د موټرو تورې ښيښې سپينېږي؟ حيرانوونکې ده)).
د ولسي جرګې ځينې نور غړي هم دغه غونډه غندي او په خبره يې په هېواد کې لسګونه ملي مسايل چې د ټول ملت سرنوشت ورپورې تړلی، همداسې ناحل پراته دي، خو څو وکيلان د خپلو شخصي ګټو لپاره د شپې په ۱۱ بجو بېړنۍ غونډه رابولي.
د ولسي جرګې غړی نعمت الله کرياب وايي: ((پر کونړ د پاکستان زرګونه توغندي راغلل، خو چا بېړنۍ غونډه جوړه نه کړه. جګړې دي، ستونزې دي، بحران رامنځ ته شوی، خو څوک بېړنۍ غونډه نه رابولي. دلته بيا د څو کسانو لپاره غونډه رابلل کېږي)).
د کرياب په خبره، ټوله پېښه بايد د قانون په رڼا کې وڅېړل شي او د شخصي عقدو له امله دې په دې حساسو شرايطو کې د هېواد پر سرنوشت لوبې نه کېږي. د وکيلانو تر څنګ، عام ولس هم د ولسي جرګې پر دغه غونډه توند غبرګون ښودلی دی. په ټولنيزو رسنيو کې د ولسي جرګې له لوري امنيتي ځواکونو ته سپکاوی هم په کلکو ټکو غندل شوی دی او د قانون په رڼا کې د پېښو د څېړلو غوښتنه شوې ده.
دا لومړی ځل نه دی چې د پوليسو او وکيلانو ترمنځ ورته ناندرۍ رامنځ ته کېږي؛ بلکې تر دې وړاندې هم د ولسي جرګې ځينو غړو ان ځينې پوليس وهلي- ډبولي او ډزې يې ورباندې کړې دي. د کورنيو چارو وزارت بيا وايي، دوی هېڅ فشار ته نه تسليمېږي، بلکې د قانون پلي کول خپله دنده بولي. د کورنيو چارو وزارت ويلي چې د پېښې د څېړلو په برخه کې د قانون په رڼا کې همکارۍ ته تيار دي.

# <u>پنټاګون:</u> ترکيه دې ژر تر ژره په سوريه کې روان پوځي عمليات ودروي

د امريکا دفاع وزارت يا پنټاګون د سوريې په شمال کې د کرد ملېشه ځواکونو پر ضد د ترکيې له پوځي عملياتو سره مخالفت ښودلی او د دغه هېواد له چارواکو يې غوښتي چې ژر تر ژره دې دا لړۍ ودروي.
د امريکا دفاع وزير مارک ايسپر له خپل ترکي سيال خلوصي اکار سره په ټليفوني خبرو کې له هغه غوښتي، چې په سوريه کې پوځي عمليات بند کړي.
دا په داسې حال کې ده چې په سوريه کې د ترکيې د پوځي عملياتو له پيل راهيسې، دا د امريکا تر ټولو څرګند مخالفت دی.
دا عمليات د هغو کرد ملېشه ځواکونو پر ضد پوځي کمپاين بلل شوی، چې په وروستيو پنځو کلونو کې په سوريه کې د داعش پر ضد جنګېدل او له امريکا سره يې اتحاد درلود.
د امريکا د دفاع وزارت وياند جانتن هوفمن ويلي چې د دفاع وزير مارک ايسپر، خلوصي اکار ته په وضاحت ويلي چې واشنګټن په سوريه کې د ترکيې له پوځي عملياتو سره مخالفت لري.
د امريکا د دفاع وزارت وياند په يوه بيان کې ويلي، په سوريه کې د ترکيې پوځي عمليات، هغه پرمختګ چې د داعش پر ضد په پوځي عملياتو کې شوی، زيانمنولی شي.
د پنټاګون وياند ويلي چې د امريکا دفاع وزير ټينګار کړی چې ترکيه بايد خپل پوځي عمليات د دې لپاره هم ودروي، چې په سوريه کې مېشتو امريکايي ځواکونو ته ضرر ونه رسېږي.
د دواړو هېوادونو د دفاع وزيرانو په ټليفوني خبرو کې په سوريه کې د خپلو مېشتو عسکرو په اړه شديده اندېښنه څرګنده کړې ده.
د پنټاګون وياند ويلي چې د امريکا د دفاع وزير ترکي لوري ته ويلي چې واشنګټن له انقرې سره خپلو اړيکو ته ارزښت ورکوي، خو په سوريه کې پوځي عمليات حتی د انقرې لپاره جدي عواقب لرلای شي.
بلخوا د سوريې د بشري حقونو د څار يوې ادارې چې مرکز يې په لندن کې دی، ويلي چې ترکي ځواکونو د سوريې په شمالي ښار راس العين او تل ابياد کې پراخې سيمې نيولې دي.
ملګري ملتونه بيا وايي چې د جګړې له امله په دريو ورځو کې سل زره ولسي وګړي له سيمې تښتېدلي او د اوبو د يوه بند د نړېدو له امله، ۴۰۰ زره انسانان د څښاک له پاکو اوبو بې برخې شوي دي.

## د کتاب خبرې

# پښتانه


### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◎ لیکوال: ابوبکر صدیق
◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

**دوهمه برخه**

**پاکستان**

## پنځم څپرکی
## له منځه تلونکي قومونه




کله چې په ۲۰۰۵ز کال شاکر له سیمې وشړل شو، ګُمنامه منګل باغ د لشکر اسلام قومندان شو. د دې دوو لشکر الاسلام او انصار الاسلام ډلو تر منځ د اوږدو جګړو په ترځ کې په سلګونو کسان ووژل شول. خیبر په دوو برخو وېشل شوی و، د هرې برخې کنټرول یې له دې دوو ډلو د یوې په لاس کې و. منګل باغ ان په بره ښارګوټي کې پر مېشتو سیکانو جزیه هم حواله کړې وه. د پاکستاني پوځ عملیاتو په ترځ کې لشکر اسلام ډله سرکوبه نه شوه. په پای کې د ۲۰۱۱ز کال په اپرېل کې د افریدي قوم، د زخه خېلو پښې د منګل باغ پر ضد پاڅون وکړ. وروسته له هغه چې ډله یې پر دوو برخوووېشل شوه، منګل باغ هم کمزوری شو. ۲۰۰۸ز کال د حاجي نامدار تر مړینې وروسته، د پاکستاني طالبانو د تحریک ځواک لا ډېر شو. له هغې وروسته چې حاجي نامدار دې ډلې ته د پاکستان په خاوره کې د ناټو پر اکمالاتي کاروانونو د بریدونو لومړنۍ هوکړه وکړه، له دې ډلې سره یې اړیکې خړې پړې شوې. له ۲۰۰۸ز کال راهیسې، د پاکستان په خاوره کې د ناټو پر اکمالاتي کاروانونو بریدونه، د یاغیانو د ستراتېژۍ یوه اساسي برخه وه. په ۲۰۱۰ز کال، پاکستان کې د جهادیانو په یوه مخکښه مجله کې لیکل شوي وو: ((د پاکستاني او امریکایي چارواکو په حواله چې د پاکستان له خاورې افغانستان ته د ناټو له ۸۰ څخه تر ۹۰ سلنه اکمالات کېږي.))

ځايي شنونکي وايي چې لشکر اسلام له ((TTP)) سره د جرایمو د ترسره کولو پر سر سیالي کوله. دا ډله د نشه یي توکو په کاروبار او د پیسو لپاره په انسان تښتونه هم بوخته وه. د پاکستاني طالبانو له تحریک سره د مخالفت په سبب یې د منګل باغ ډلې په ځايي مامورینو کې ملاتړ پیدا کړ، خو هغه تر دې وړاندې چې د زخه خېلو قوم له مخالفت سره مخ شي، له تحریک سره سوله وکړه.

تر ۲۰۱۳ز کال پورې انصار الاسلام ډله د پاکستاني طالبانو له تحریک او لشکر اسلام سره د مخالفت له کبله ډېره مشهوره شوه. دې ډلې په لیرې پرته سیمه تېره کې، د ځان وژونکو بریدونو د نه کولو او د روغتیا او پوهنې د چوپړتیاوو د چمتو کولو په سبب د ځايي ملکي مامورینو ملاتړ خپل کړی و. د ۲۰۱۳ز کال په جنورې کې انصار الاسلام د میدان ستراتیژیکې سیمې ته د پاکستاني طالبانو د تحریک مخه ډب کړه. تحریک په تېر اوړي کې د میدان سیمې ته نږدې څو کلي نیولي وو، ځکه یې د پښې اېښودلو ځای ځان ته چمتو کړی و. دا مهال القاعده د امریکایي بې پیلوټه الوتکو تر پرلپسې بریدونو لاندې راغلې وه، ځکه یې غوښتل، له خیبر څخه ۳۰۰ کلیومتره لیرې سیمې، شمالي وزیرستان څخه بل خوندي ځای ته پناه یوسي، د پاکستاني طالبانو تحریک هم غوښتل هغوی ته ورته پټنځای ولټوي. د پاکستاني طالبانو تحریک له انصار الاسلام سره جګړه پیل کړه، څو ورځنۍ جګړه کې په سلګونو وګړي ووژل شول، خو انصار الاسلام ډلې لا هم جګړه کې ماته نه وه خوړلې. خیبر کې مېشتو افریدي قومونو ادم خېل دېرې ته مخه کړه، دا سیمه د پېښور او سویلي کوهاټ ولسوالۍ تر منځ پرته وه. طالبانو د خپل پخواني پلان له مخې لومړی دېرې ته ځايي جنګیالي ولېږل چې له ځايي مجرمینو سره مقابله وکړي، وروسته یې هلته د واک منګولې ټینګې کړې او ځايي مشران یې هم له واک لیرې کړل. دلته د طالبانو مشري د طارق افریدي په غاړه وه او د یاغیانو موجودیت له یوې خوا پېښور ته، له بلې خوا د دې سیمې له سویلي سیمو نښلوونکي سړک ته ګواښ و.

دې ډلې د ۲۰۰۸ز کال په فبروري کې له پنجاب څخه د پوېټر سټانزاک په نوم د یو انجنیر د تښتونې مسئولیت پر غاړه واخیست، دا انجنیر یې بیا د ۲۰۰۹ز کال په فبروري کې ووژه. که څه هم د پاکستاني پوځ له لوري په دېره کې نظامي عملیات وشول، خو بیا هم خلک له سختې ناامنۍ سره مخ وو. د پاکستان پوځ د ۲۰۱۱ز کال په مې کې د یوه هوایي برید په ترځ کې د طارق افریدي د وژلو ادعا وکړه، د ۲۰۱۲ز کال په اګسټ کې یو ځل بیا د هغه د وژلو خبر خپور شو. د ۲۰۱۳ز کال د فبروري په پای کې طالبانو د هغه مړینه تایید کړه چې د تېر اوړي په یوه برید کې ژوبل شوی و او له سختو ټپونو څخه ومړ.

**تر سپین غره لاندې کرکه**

په کرمه دره کې د (۷۰) کیلومترو په اوږدو رود بهېږي. د سپین غره په واورو پوښلې څوکې د کرمې ولسوالۍ پاړاچنار ښار ته ځانګړې ښکلا ورکړې. په ۲۰۰۷ز کال، پاړاچنار کې د شیعه ګانو او سنیانو تر منځ جګړه پیل شوه، د دې مذهبي جګړې په ترځ کې د طالبانو لاسوهنې ته لاره اواره شوه. د پاړاچنار ډېری اوسېدونکي له توري قوم څخه دي چې شمېر یې د اټکل له مخې (۵۰۰۰۰۰) ته رسېږي، توریان د پښتنو په منځ کې د شیعه پالنې په خاطر ځانګړې دي. هغوی پولې ته نږدې د پیوړ کوتل په نوم سیمه کې مېشت دي چې لوېدیځ لور ته له افغانستان سره نښلي. د افغانستان پلازمېنه کابل له پاړاچنار څخه ۱۰۰ کیلومتره واټن لري. له پېړیو توري او بنګش شیعه قومونو له سني قومونو سره په خورا همدردۍ او ښه توګه ژوند کړی و، خو په ۱۹۸۰ ز لسیزه کې د دواړو په منځ کې زړه بدوالی راغی. په ۱۹۸۷ ز کال، په کورمه کې د دواړو قومونو تر منځ جګړه کې په سلګونو وګړي ووژل شول. په ۱۹۸۰ ز لسیزه کې اسلام‌اباد د شوروي د سره پوځ پر ضد جګړه کې د افغان سني مجاهدینو ملاتړ کاوه. د توریانو د جګړې په غبرګون کې دې سیمې ته د اسلام پالو لاسونه اوږده شول. **دوام لري...**

# غرجستان پوهنتون

حمیدالله حمیدي




غرجستان پوهنتون په ۱۳۸۸ لمریز کال کې له لوړو زده کړو وزارت څخه د فعالیت جواز تر لاسه کړی او د څلورو پوهنځیو او اتو ډیپارټمنټونو په درلودلو سره یې په ۱۳۸۹ لمریز کال کې عملاً پر فعالیت پیل کړی دی. د غرجستان پوهنتون رییس ښاغلی ډاکټر ناصر علي رحماني وایي، پوهنتون یې له هماغه لومړي سره تر اوسه پورې څلور پوهنځي (حقوق او سیاسي علوم، کمپیوټر ساینس، اجتماعي علوم او اقتصاد) لري چې هر پوهنځی یې بیا په خپل چوکاټ کې دوه دوه ډیپارټمنټونه لري. ښاغلی رحماني وایي، کمپیوټرساینس پوهنځی یې د (معلوماتي ټکنالوژۍ او سافټویر انجنیرینګ)، اقتصاد پوهنځی یې (تجارتي اقتصاد او مدیریتي اقتصاد)، حقوقو پوهنځی یې (نړیوال حقوق او نړیوالې اړیکې) او دغه راز په اجتماعي علومو پوهنځي کې بیا د (جامعه شناسی) ډیپارټمنټونه لري. غرجستان پوهنتون په فراه ولایت کې هم یوه څانګه لري، چې د ښاغلي رحماني په خبره، هغه څانګه یې له یادو شویو پوهنځیو سره سره، د انجنیري پوهنځی هم لري، چې عملاً محصلین پکې لوړې زده کړې کوي.

لږ تر لږه لس کاله کېږي چې غرجستان پوهنتون د لوړو زده کړو په برخه کې کار کوي. د دغه پوهنتون رییس ناصر علي رحماني وایي، د کلونو په اوږدو کې یې د محصلینو شمېر توپیر درلود. نوموړی وایي، اوسمهال د دوو زرو په شاوخوا کې محصلین لري، چې شپېته سلنه یې نارینه او څلوېښت سلنه یې ښځینه محصلین دي. د رحماني په خبره، یوه دوره محصلین د سهار له اتو د غرمې تر دوولسو بجو او بله دوره هم د مازدیګر له څلورو د شپې تر اوو یا اتو بجو پورې د زده کړو لپاره ورځي.

ښاغلی رحماني وایي، ټول هغه شرایط یې پوره کړي چې لوړو زده کړو وزارت په یوه پوهنتون کې د ماسترۍ لپاره ټاکلي دي، چې په هغه کې د پوهنځیو شمېر، د علمي کادر موجودیت او یا هم نور معیارونه دي. دی وایي، ان له ۱۳۹۵ لمریز کال را پدېخوا یې څو څو ځله لوړو زده کړو وزارته غوښتنلیکونه سپارلي، څو په ځینو پوهنځیو کې ورته د ماسترۍ پروګرام د پیلېدو جوازونه ورکړي، خو لا هم پر دې چاره نه دي بریالي شوي. رحماني وایي، اوس یې هم لومړنۍ غوښتنه همدا ده چې په ځینو پوهنځیو کې د ماسترۍ پروګرام پیل کړي.

د دغه پوهنتون رییس وایي، تر اوسه پورې یې له خپلو فعالو پوهنځیو څخه اووه دورې محصلین فارغ کړي، چې شمېر به یې ۲۰۰۰ کسانو ته رسېږي. هغه وایي، ټول فارغ شوي محصلین یې د دندو څښتنان دي او یا هم بهر ته د نورو لوړو زده کړو لپاره تللي دي. د رحماني په خبره، دا چې دوی په کال کې دوه ځله کانکور ازموینه اخلي او په کال کې د ۱۰۰۰ نویو محصلینو د جذب وړتیا لري، خو بیا هم د پنځو یا شپږو سوو کسانو په شاوخوا کې نوي محصلین جذبوي.

د رحماني په خبره، په ټوله کې د محصلینو لپاره تخفیف په پام کې نیول شوی دی، خو بیا هم هغه کسان چې د لوړو زده کړو وزارت لخوا دوی ته ور معرفي کېږي، له شل تر پنځه ویشت سلنې پورې تخفیف ورکوي. دغه راز هغه کسان چې بېوزله دي او نه شي کولی خپلو لوړو زده کړو ته ادامه ورکړي، غرجستان پوهنتون ورته ځانګړی تخفیف ورکوي.

د دغه پوهنتون رییس وایي، غرجستان پوهنتون د نورو خصوصي پوهنتونونو په کتار کې هغه پوهنتون دی، چې په ټوله کې له محصلینو لږ فیس اخلي. رحماني وایي، یوازې کمپیوټر ساینس پوهنځی چې یو څه ډېر امکانات لري او معلومه خبره ده چې ښه امکانات په ښو پیسو برابرېږي، نو فیس یې د نورو پوهنځیو په پرتله یو څه زیات دی. د نورو پوهنځیو لپاره یې مناسب فیسونه ټاکلي، چې محصلین یې د پرېکولو وړتیا لري او کولی شي خپلې لوړې زده کړې مخ ته یوسي.

غرجستان پوهنتون ۲۸ دایمي استادان لري، چې له ډلې یې شپږ ښځینه او پاتې نور نارینه استادان دي، چې ډېری یې د دوکتورا تر کچې پورې لوړې زده کړې لري. رحماني وایي، ډېر لږ استادان یې د ماسترۍ تر کچې پورې لوړې زده کړې لري، چې هغوی هم اوس عملاً په کور د ننه او بهر کې د دوکتورا په پروګرامونو کې شامل دي.

غرجستان پوهنتون د خپلو محصلینو لپاره مجهز کتابتون لري. د دغه پوهنتون رییس وایي، هڅه یې کړې ده چې د هر پوهنځي او هر ډیپارټمنټ لپاره اړوند ټول کتابونه برابر کړي، څو محصلین ترې د مطالعې لپاره ګټه واخلي. ښاغلی رحماني وایي، اوس تازه یې هڅې پیل کړې دي، چې د فزیکي کتابتون تر څنګ، د خپلو محصلینو لپاره یو ډیجیټالي کتابتون هم برابر کړي، څو محصلین وکولی شي په هر ځای کې چې وي، په انلاین بڼه د خپلې خوښې کتابونه په کتابتون کې ولټوي او مطالعه یې کړي.

د دغه پوهنتون رییس وایي، په ۱۳۹٦ لمریز کال کې لوړو زده کړو وزارت د خصوصي پوهنتونونو لپاره چې کوم معیارونه په پام کې نیولي وو، څو د دغو پوهنتونونو فارغ شویو محصلینو ته دولتي ډیپلومونه وویشي، غرجستان پوهنتون پنځم خصوصي پوهنتون و، چې دغه معیارونه یې پوره کړل او دولتي ډیپلومونه یې تر لاسه کړل. اوس دغه پوهنتون خپلو فارغېدونکو محصلینو ته دولتي ډیپلومونه ویشي، چې محصلین کولی شي له ټولو حقونو یې برخمن شي. دوی کولای شي له اسنادو یې د دندې په پیدا کولو او دغه راز د لا نورو لوړو زده کړو د پر مخ بېولو لپاره ګټه واخلي.

د کتابتون او انټرنېټ تر څنګ، غرجستان پوهنتون د خپلو محصلینو لپاره د پوهنتون د ننه ډېر نور امکانات هم لري. د دغه پوهنتون رییس وایي، په پوهنځیو کې د عملي زده کړو تر څنګ، د محصلینو لپاره د ژبې او کمپیوټر زده کولو، انټرنېټ او لوبو په برخه کې هم امکانات لري، چې محصلین کولی شي د خپلو وړتیاوو د لوړولو لپاره ترې ګټه واخلي. ښاغلی رحماني وایي، د ښځینه محصلینو لپاره یې له دې مخکې لیلیه هم درلوده چې له بدغه مرغه څه موده وړاندې د ځینو ستونزو له کبله وتړل شوه. دی وایي، د راتلونکي خزاني سمیسټر لپاره به هڅه وکړي، چې د ښځینه محصلینو لپاره یو ځل بیا دغه لیلیه برابره کړي، ځکه په خبره یې، ډېری ښځینه محصلینې یې د لرې پرتو ولایتونو دي.

د غرجستان پوهنتون اداره وایي، د پوهنتون د لا پرمختګ لپاره ډېر پلانونه لري، چې یو په بل پسې به یې عملي کوي. د دغه پوهنتون رییس وایي، لومړنۍ هڅه به یې دا وي چې د لوړو زده کړو وزارت لخوا ټول ټاکل شوي معیارونه پوره او د محصلینو لپاره ټول هغه امکانات برابر کړي، چې د دوی اړتیا بلل کېږي. دغه راز به هڅه وکړي چې په کابل ښار کې له ډېرو سکټوري ادارو سره په اړیکه کې شي، څو د محصلینو د عملي زده کړو لپاره هم زمینه برابره کړي او وکولی شي تر فراغت وروسته، ډېر ژر د خپلو محصلینو لپاره دندې پیدا کړي.

د غرجستان پوهنتون اداره له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي، چې لومړی خو ټول هغه معیارونه چې د خصوصي پوهنتونونو او لوړو زده کړو موسسو لپاره په پام کې نیول شوي دي، په یو شان په ټولو پوهنتونونو کې عملي کړي او تر څنګ یې لوړو زده کړو وزارت اړ دی چې د خصوصي پوهنتونونو د پایښت او پرمختګ لپاره، له دغو پوهنتونونو سره هر اړخیزه همکاري وکړي او د پرمختګ زمینه ورته برابره کړي. دی زیاتوي، د خصوصي پوهنتونونو لپاره د دایمي ځایونو نشتون او د زیاتې مالیې اخیستل هم هغه څه دي، چې د خصوصي پوهنتونونو د هر اړخیز پرمختګ مخه یې نیولې ده. د دغه پوهنتون رییس وایي، دوه اړخیزه همکاري کولی شي د خصوصي پوهنتونونو د پر پښو درېدو او پرمختګ لامل شي او د نورې نړۍ په څېر خصوصي پوهنتونونه په افغانستان کې هم خپل ځای او اعتبار پیدا کړي.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۲۰ |
| € | ۸۵,۵۰ |
| Rp. | ٤۹۹ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۰ |
| £ | ۹۵,۲۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنی شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

همیانی

# خستگی تصمیم گیری چیست و چطور با آن مقابله کنیم؟

**ترجمه: احمد فردوسی**

گاهی پیش می‌آید در میانه روز دیگر توان انتخاب‌کردن نداریم. از صبح پی‌درپی تصمیم گرفته‌ایم و از جایی به بعد در موقعیت تصمیم گیری، یا آن را به دیگران واگذار می‌کنیم یا به تأخیر می‌اندازیم. اضطراب ناشی از تصمیم‌گیری در کسانی رایج است که باید به‌طور پیوسته تصمیم بگیرند و انتخاب کنند. این نشانه پدیده‌ای‌ست به‌نام خستگی تصمیم گیری. در این مطلب شما را با نشانه‌های خستگی تصمیم گیری و تأثیر آن در کاهش بهره وری و انگیزه آشنا می‌کنیم. همچنین توصیه‌هایی برای کاهش آن ارائه می‌کنیم. با ما همراه باشید.

**خستگی تصمیم گیری چیست؟**

اصطلاح خستگی تصمیم گیری یا خستگی تصمیم را نخستین بار داکتر «(رُی باومیستر (Roy F. Baumeister)» روان‌شناس اجتماعی، بر اساس نظریه «تهی‌شدن نفس» فروید به‌کار برد. تهی‌شدن نفس همراه با کاهش اراده و مدیریت رفتار است. برمبنای مقالات «باومیستر»، خستگی ذهن اراده و اختیار را از بین می‌برد!

مثلاً پس از یک روز شلوغ، پر از تصمیم‌گیری‌های ریز و درشت، به خانه می‌رسید. همسرتان از شما می‌پرسد: «شام چی می‌خوری؟» و شما با گفتن «هیچ»، خودتان را راحت می‌کنید! این پاسخ بر توانایی و بهره‌وری‌تان تأثیر می‌گذارد، زیرا جسم و ذهن‌تان تغذیه نمی‌شود. گزینه دیگر این است که انتخاب را به‌عهده همسرتان بگذارید یا از منوی رستوران یا تهیه‌غذای سر کوچه‌تان غذایی را تصادفی سفارش دهید. این کار را انجام می‌دهیم چون خسته‌ایم و برای‌مان ساده‌تر است که تصمیم‌گیری را به دیگری یا به تصادف واگذار کنیم! «باومیستر» در کتاب «اراده: بازکشف بزرگ‌ترین قدرت انسان» چنین نتیجه می‌گیرد: «تصمیم‌گیری همان اراده‌ای را به کار می‌گیرد که نه‌گفتن به شیرینی و مواد مخدر».

یکی از عوامل خستگی تصمیم گیری در دنیای امروز، پرسش‌های پیوسته از ابزاری به ابزار، و از وظیفه‌ای به وظیفه دیگر است. در میانه روز و حتی در ساعت کاری، ایمیل‌های‌مان را چک می‌کنیم، ناگهان تصمیم می‌گیریم سری به واتس‌اپ بزنیم، بعد هم عکس‌های پی‌درپی را در اینستاگرام تماشا می‌کنیم. این میزان از تغییر روند، نه‌تنها تمرکز را از بین می‌برد، بلکه با هر بار تصمیم‌گیری بخشی از نیروی اراده ما تحلیل می‌رود.

همین حالا فکر کنید و ببینید هر روز حتی پیش از ترک خانه، چه تعداد تصمیم خُرد می‌گیرید، چه بپوشیم، کره یا پنیر، مربا یا عسل، تخم‌مرغ چطور است، شیر یا چای و ... . به اینها، تصمیم‌های بزرگ و کوچک کاری را اضافه کنید. حتی مؤدب بودن خودش یک تصمیم است. به‌نظر سرگیجه‌آور است! عجیب نیست اگر در میانه روز پس از صدها و حتی شاید هزاران تصمیم، احساس خستگی کنیم.

در تحقیقی، بیش از ۱۱۰۰ پرونده بررسی آزادی مشروط در آمریکا بررسی شد. در نتیجهٔ این تحقیق، آنچه بیشترین نقش را در صدور حکم آزادی مشروط داشت، جرم، سابقه یا سنگینی حکم مجرم نبود، بلکه زمان بررسی پرونده بود! ۷۰ درصد زندانیانی که صبح اول‌وقت برای بررسی پرونده‌شان حاضر شده بودند، حکم آزادی مشروط گرفته بودند. در مقابل، ۱۰ درصد زندانیانی که پرونده‌شان دیرتر بررسی شده بود، حکم آزادی مشروط گرفتند.

فرقی نمی‌کند چقدر منطقی و باملاحظه باشیم؛ گرفتن تصمیم‌های پی‌درپی ذهن را خسته می‌کند. مشکل اینجاست که برخلاف خستگی جسمی که متوجه آن می‌شویم، اغلب حواس‌مان نیست که دچار خستگی تصمیم گیری شده‌ایم. خسته و درمانده می‌شویم و دیگر به چیزی اهمیت نمی‌دهیم. بدون اینکه متوجه باشیم، گزینه «هرچه بادا باد» را انتخاب می‌کنیم.

خستگی تصمیم روشن می‌کند که چرا آدم‌های منطقی نمی‌توانند در برابر پیشنهاد خرید پوشش ضد زنگ برای ماشین نوی‌شان مقاومت کنند!

تحقیقاتی بسیاری انجام شده‌اند اما نتوانسته‌اند به‌طور دقیق تأثیرات خستگی تصمیم گیری را مشخص کنند. تحقیقی که اخیراً «کارول دوک(Carol Dweck)» روان‌شناس پوهنتون استانفورد انجام داده است، نشان داد که تنها باور به اینکه اراده بیشتر داریم، حتی در هنگام خستگی تصمیم‌گیری، توانایی گرفتن تصمیم بهتر را تقویت می‌کند.

البته «دوک» تأکید می‌کند: «منظور این نیست که نیازی به بازیابی پیوسته انرژی برای کارهای دشوار نداریم؛ فقط یادآوری می‌کنیم که انسان ممکن است منابعی در اختیار داشته باشد که از آنها آگاه نیست»!

**توصیه هایی برای اجتناب از خستگی تصمیم گیری**

حالا می‌دانیم خستگی و ناتوانی بعد ازظهرها ناشی از بی‌ارادگی یا نداشتن تعهد نیست، بلکه به‌دلیل خستگی تصمیم گیری است. اگر در شغل‌تان پیوسته در حال تصمیم‌گیری هستید، بی‌تردید پس از مدتی خسته می‌شوید و تصمیم‌های نامناسب می‌گیرید. مشکل هم تنها با تکرار «تو خسته نیستی!» حل نمی‌شود.

باید به دنبال راه‌هایی برای مقابله با خستگی تصمیم‌گیری باشیم. هرچند تأمین قند خون به حفظ نیرو کمک می‌کند، اما روش‌های دیگر برای مقابله با خستگی تصمیم گیری وجود دارد. این روش‌ها شامل توصیه‌های گوناگون می‌شوند، از تقویت اراده و افزایش تمرکز گرفته تا اطمینان از حفظ سطح بالای انرژی در طول روز.

**۱. تصمیم‌های روزمره را کمتر و ساده‌تر کنید**

«باراک اوباما» (رئیس‌جمهور پیشین آمریکا) و «مارک زاکربرگ» (شریک بنیان‌گذار و مالک فیسبوک) تقریباً هر روز لباسی تکراری می‌پوشند! اوباما در دوره ریاست‌جمهوری، کت‌وشلوار سرمه‌ای یا خاکستری می‌پوشید. زاکربرگ معمولاً شرتی خاکستری به تن می‌کند. اوباما در مصاحبه‌ای در سال ۲۰۱۲ گفت: «من یا لباس سرمه‌ای می‌پوشم یا خاکستری. سعی می‌کنم انتخاب را به ۲ گزینه محدود کنم! دوست ندارم درباره خوردن یا پوشیدن، تصمیم بگیرم؛ چون تصمیم‌گیری‌های بسیاری به‌عهده‌ام است»!

زاکربرگ با الگوبرداری از «استیو جابز» که همیشه لباسی مشابه می‌پوشید، همین کار را می‌کند. او در مصاحبه‌های گوناگون تأکید کرده است که ترجیح می‌دهد توان ذهنی‌اش را صرف تصمیم‌هایی مانند چگونگی خدمت به آدم‌ها کند تا تصمیم‌های خُرد و بی‌اهمیت.

تعیین برنامه مشخص روزانه یا برنامه غذایی هفتگی نمونه‌هایی از ساده‌سازی هستند. با کاهش تصمیم‌گیری‌های روزمره، نیروی بیشتری برای تصمیم‌های مهم‌تر باقی می‌ماند.

**۲. برای ساعات آغازین روز اولویت‌بندی درستی داشته باشید**

مانند داستان قاضی‌ها، ما هم در آغاز روز بهتر تصمیم می‌گیریم. در آغاز روز و پیش از کارهای دیگر، به کارهای مهم (شخصی یا کاری) رسیدگی کنید.

# سعادتي: د ټاکنو په خپلواک کمېسیون کې ځیني کړۍ د ارگ په گټه کار کوي

د عبدالله عبدالله په مشرۍ د ثبات او همپالنې ټاکنیزې ډلې اندېښنه ښودلې چې د ټاکنو په خپلواک کمېسیون کې ځیني کړۍ د ارگ په گټه کار کوي.

د دغه ټاکنیزې ډلې مرستیال اسدالله سعادتي تېره ورځ د یوې خبري ناستې پر مهال خبریالانو ته ویلي، چې کمېسیون باید له دغه ډول کړنو لاس واخلي او په پوره شفافیت دې د ټاکنو پروسه مخ ته یوسي.

هغه زیاته کړې: «په انتخاباتو خپلواک کمېسیون کې یوشمېر کړۍ هڅې کوي چې د ارگ له ټیم سره په گډه تقلبي او تورې رایې سیستم ته دننه کړي».

دغې ډلې ادعا کړې چې تر دې دمه د ټاکنو خپلواک کمېسیون ډېټا انټري ته نیمايي نابایومټریک شوې رایې دننه کړې دي.

یاد ټیم دغه راز گوابښ کړی چې که په ټاکنو کمېسیون کې د درغلیو مخه ونه نیول شي، دوی به یې پر وړاندې ودرېږي.

د یاد ټیم د چارواکو په خبره، د درغلیو لپاره د هڅو په ترڅ کې څو ځلې د بایومټریک سرور له ستونزو سره مخ شوی او ان سایبري بریدونه پرې شوي دي.

خو د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویاند ذبیح الله سادات ازادي راډیو ته ویلي چې هره هغه ټاکنیزه ډله چې تور لگوي، باید اسناد وړاندې کړي.

هغه زیاته کړې: «باید اسناد او شواهد وړاندې شي، ترڅو هغه کسان چې د یوې مشخصې ډلې په گټه کار کوي، وپېژندل شي او قانوني چلند ورسره وشي، خو له بده مرغه دغه ډول څرگندونې یوازې تر ادعا پورې پاتې شوې».

نوموړي ویلي چې دا ډول څرگندونې د ټاکنو په اړه د خلکو د ذهنیت او باور لپاره زیان رسوونکې دي.

په ورته وخت کې د ولسمشرۍ ماڼۍ ویاند صدیق صدیقي هم د دغه ټیم ادعاوې رد کړې او ویلي یې دي چې د ټاکنو کمېسیونونو د خپلواکۍ او بې پرېتوب په موخه، د لومړي ځل لپاره د یاد کمېسیون غړي او کمېشنران د نوماندانو له لوري وټاکل شول.

صدیقي زیاته کړې: «د دوی دا ادعا ناقانونه او غیر مسوولانه ادعا ده او موږ له کمېشنرانو سره اړیکې هم نه لرو، په تاریخ کې لومړی ځل دی چې نوماندانو خپله د کمېسیونونو کمېشنران وټاکل، ان ولسمشر له خپلې رایې په کې تېر شوی».

د یادونې ده چې د افغانستان ولسمشریزې ټاکنې د تلې په شپږمه په ټول هېواد کې تر سره شوې او ټاکل شوې چې د همدې میاشتې په ۲۷مه یې لومړنۍ پایلې اعلان شي.

# عدلي او قضايي مرکز: په تېرو ٦ میاشتو کې تر ٦۰۰ ډېر کسان د نشه یي موادو د قاچاق په تور محکوم شوي

په تېرو شپږو میاشتو کې تر شپږ سوو ډېر کسان د نشه یي موادو د قاچاق په تور نیول شوي دي.

د روان کال په لومړیو شپږو میاشتو کې له نشه یي موادو سره د مبارزې عدلي او قضایي مرکز ته (۵۵۷) دوسیې رسېدلې، چې تر څېړلو وروسته د دې مرکز محکمو (٦۷۷) کسان د نشه یي موادو د تولید، قاچاق او خرڅلاو په تور له شپږو میاشتو نیولې بیا تر شلو کالو پورې پر بند باندې محکوم کړي دي.

د دغه مرکز ویاند خالد موحد ازادي راډیو ته ویلي، د دوی څېړنې ښیي چې د ۱۳۹۸ لمریز کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د نورو نشه یي موادو تر څنگ، د بنگو او خاشخاشو قاچاق هم ډېر شوی دی.

هغه ویلي: «د ۱۳۹۸ کال د سرطان، اسد او سنبلې په میاشتو کې په مجموعي ډول دې مرکز ته د افغانستان له بېلابېلو سیمو څخه (۳۰۱) دوسیې رسېدلې او د نشه یي موادو د قاچاقو په تور (۳۵٦) کسان نیول شوي دي، په دې کسانو کې (۵۵) کسانو یې غوښتل چې د هېواد د هوایي ډگرونو له لارې هندوستان، عربستان او عربي اماراتو ته هیروئین قاچاق کړي».

دا په داسې حال کې ده چې د روان کال په لومړیو میاشتو کې بنگ او خاشخاش د نشه یي موادو په لېست کې شامل شول چې اوس یې د افغانستان امنیتي او کشفي ادارې د نیولو پوره صلاحیت لري.

د کورنیو چارو وزارت له نشه یي موادو سره د مبارزې معینیت د معلوماتو پر اساس، سږ کال افغان ځواکونو د مالي ستونزو او جگړو له امله د کوکنارو اړولو رسمي کمپاین ونه کړ.

بلخوا د کورنیو چارو وزارت پخواني مرستیال او امنیتي کارپوه میرزامحمد یارمند ویلي چې ناامنیو د نشه یي موادو قاچاقو ته لار هواره کړې ده.

هغه زیاته کړې چې یوازې د قاچاق کوونکو نیول مبارزه نه بریالۍ کوي، باید د کوکنارو د کښت او تولید مخه ونیول شي.

هغه ویلي: «له نشه یي موادو سره د مبارزې پولیسو اساسي مسوولیت له نشه یي موادو سره د مبارزې او وقایې په برخو کې همکاري ده، د افغانستان جغرافیاوي موقعیت او جرمي اقتصاد څخه را پیدا شویو زیانونو ته په کتو سره باید وقایوي پروگرامونه جوړ شي، خلکو ته خدمات وړاندې کړي او له بزگرو سره د بدیلو کښتونو په برخه کې مرستې وشي، چې بزگران کوکنار ونه کري، خو له بده مرغه چې د وقایې په برخه کې اوسني اقدامات ډېر لږ دي».

له نشه یي موادو سره د مبارزې عدلي او قضایي مرکز څېړنې ښیي چې سږ کال په تېرو شپږو میاشتو کې له (٦۷۷) نیول شویو کسانو څخه (۱۲۷) کسانو یې غوښتل چې د افغانستان د هوایي ډگرونو له لارې نشه یي مواد بهرنیو هېوادونو ته قاچاق کړي.

# Maseer Daily

New Vision, New Journey



المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!
flydubai · TURKISH AIRLINES · Emirates · ARIANA
0786 55 55 91, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستۍ برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.




یکشنبه د ۱۳۹۸ د تلې ۲۱مه | د ۲۰۱۹ د اکتوبر ۱۳مه | ٤٤۳مه ګڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۵ | ۲۹ | ۳۱ | ۲۸ | ۳۲ | ۲۹ |
| ۹ | ۱۰ | ۱۲ | ۱٦ | ۲۰ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۲۱ | لمر ختل ۰۵:٤۳ | ماسپښین ۱۱:٤۵ | مازدیګر ۰٤:۰۲ | ماښام ۰۵:٤۵ | ماخوستن ۰۷:۰۹

## نړۍ




## پنټاګون: ترکیه دې ژر تر ژره په سوریه کې روان پوځي عملیات ودروي

۳

## د پاکستان لومړی وزیر د منځني ختیځ د کړکېچ د هواري په موخه تهران ته تللی دی



د پاکستاني رسنیو د راپور له مخې، د دغه هېواد لومړی وزیر عمران خان ایران ته تللی دی.

دا په داسې حال کې ده چې نږدې دوې اونۍ مخکې امریکا له عمران خان څخه غوښتنه کړې وه چې د تهران او ریاض ترمنځ د هغه کړکېچ په هوارې کې مرسته وکړي چې د سعودي عربستان د تېلو پر تاسیساتو تر برید وروسته را ولاړ شوی دی.

بلخوا د عمران خان د دفتر یوه لوړپوړي چارواکي او د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت یوې سرچینې هم ویلي چې عمران خان د یوه پلاوي په مشرۍ دغه هېواد ته تللی دی.

دواړو سرچینو د هویت د پټ پاتې کېدو په شرط رویټرز خبري اژانس ته ویلي، چې عمران خان به په نږدې وخت کې سعودي عربستان ته هم لاړ شي. هغوی ویلي، دا نه ده څرګنده چې عمران خان د منځګړیتوب له نظر سره هوکړه کړې کنه.

د یادونې ده چې څه موده وړاندې د سعودي د تېلو په تر ټولو سترو تاسیساتو بریدونه وشول، چې ګڼ مالي زیانونه یې واړول. که څه هم په د یمن حوثیانو د دغه برید مسوولیت پر غاړه واخیست، خو امریکا او سعودي عربستان د دغه برید پړه پر ایران ور اچولې ده.

## شي جین پینګ د هند له لومړي وزیر نرېندرا مودي سره پر مهمو مسایلو خبرې کړې دي



د شینهووا خبري اژانس د خبر له مخې، د چین د دولت رئیس شي جین پینګ ورمه ورځ په چینای کې د هند له لومړي وزیر نرېندرا مودي سره کتلي دي.

شي جین پینګ ویلي، ډېر خوشحاله یم چې د لومړي وزیر مودي په بلنه د هند د تامیل نادو ایالت ته راغلی یم او د دغه هېواد په اړه به زما پېژندنه لا زیاته شي. هغه زیاته کړې چې د تامیل نادو د ایالت او چین ترمنځ تبادلې اوږد تاریخ لري او د وریښمو د لرغوني لارې په اړه پر سمندر باندې د توکو د لیږدولو یو تمځای هم و. نوموړي ویلي چې دواړه خواوې باید د چین او هند ترمنځ د رسمي اړیکو د ټینګېدو د ۷۰یمې کلیزې په کارولو سره په پراخه او ژوره توګه خپلمنځي تبادلې وکړي چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو د ټینګښت لپاره هڅوونکی رول ولوبوي.

په ورته وخت کې د هند لومړي وزیر نرېندرا مودي ویلي، هند او چین لرغوني او ژور تمدنونه لري او پکې شاملې شته پوهې په اوسنۍ نړۍ کې له ډول ډول ننګونو سره د مقابلې لپاره ګټور الهام برابرولی شي.

## وزارت دفاع ملی: ولسوالی دشت ارچی کندز از وجود طالبان پاکسازی شده است



وزارت دفاع ملی می گوید که نیروهای امنیت ملی در ولایت کندز، در نتیجه عملیات تهاجمی، ولسوالی دشت ارچی را از طالبان پاکسازی کرده اند.

در خبرنامه ای که به تاریخ ۲۰ میزان از طرف این وزارت به نشر رسیده، آمده است که ساعت ۱:۳۰ شب گذشته مرکز و مناطق نزدیک ولسوالی دشت ارچی ولایت کندز و بعضی مناطق دیگر این ولسوالی، به طور مکمل از وجود طالبان پاکسازی و به دست نیروهای افغان افتاده است.

منبع علاوه کرده است که در این عملیات، مراکز بزرگ طالبان از بین برده شده و به این گروه تلفات سنگین وارد شده است.

وزارت دفاع ملی گفته است که نیروهای دفاعی ملی و امنیتی، برای پاکسازی مناطق تحت کنترول طالبان، تلاش های خود را دوام میدهند و عملیات خود را بیشتر تسریع میکنند.

در خبرنامه آمده است که از شش ماه بدینسو در ولایات غزنی، بدخشان، کندز، تخار و فاریاب، ۱۲ ولسوالی به طور مکمل از کنترول طالبان آزاد شده است.

این در حالی است که ولسوالی دشت ارچی، از یک ماه بدین طرف تحت کنترول طالبان بود.

از طرف دیگر، در ولایت کندز در یک خبرنامه که از سوی اردوی ملی به نشر رسیده، آمده است که نیروهای دولتی، صبح دیروز مرکز ولسوالی دشت ارچی را گرفته اند.

منبع علاوه کرده است که در عملیات مشترک نیروهای امنیتی، ولسوالی گرفته شده و به مخالفین مسلح تلفات سنگین وارد گردیده است.

اما طالبان مسلح تاحال در این باره به رسانه چیزی نگفته است.

## ژوند

## مه پرېږدئ چې ناهیلي مو د موخو خنډ شي!



تاسې به هغه څه ته هرومرو رسېږئ چې د ځان لپاره مو موخه ټاکلې ده. دې هرڅه ته به په خپل وخت رسېږئ؛ ځکه خدای پاک ستاسې لپاره ټولې ښېګنې او نعمتونه داسې همغږې کړي، چې په خپل وخت به یې لیدونکي وئ.

کېدای شي په کورنیو ستونزو کې راګیر شئ، اندېښنه مه کوئ، تاسې په خپل وجود کې د جوړجاړي او پرمختګ وړتیا لرئ، کولای شئ هرڅه ته د حل لار پیدا کړئ. کېدای شي کاروبار مو بې خونده شوی وي او اصلي پېرودونکي مو له لاسه ورکړي وي او له خپله کار زړه توري شئ، خو کولای شئ حس کړئ چې په وجود کې مو یو څه په حرکت کې دي. یو غږ به درته وایي: «تاسې دویم نه، بلکې لومړی نمبر یئ». په هرڅه چې لاس را تېر کړئ، غوړېږي.

کېدای شي هیلو مو ډېر وخت نیولی وي، تاسې به یې د پوره کېدو لپاره هم ډېره هڅه کړې وي، خو تر اوسه ورته رسېدلي نه یاست، خو د مایوسۍ ترڅنګ مو په وجود کې یو څه د حرکت په حال کې دي. دغه حرکت درته وایي چې بېړه مه کوئ؛ لا یې وخت پاتې دی. خدای پاک چې د څه وعده درسره کړې، هرومرو به ورته رسېږئ.

## د شکرې ناروغي او خواړه خواړه




کېدای شي ډېر کسان په دې اند وي چې که څوک د شکرې پر ناروغۍ اخته وي، نو په هېڅ ډول خواږه مواد نه شي خوړلی، خو ځینې داسې خواږه شیان شته چې په خوړلو یې پر شکرې ناروغۍ اخته کسانو ته کومه ستونزه نه پېښېږي.

باید وویل شي چې د دې ناروغۍ لپاره وچ توت ګټور دي. هغه خواږه چې په توتو کې دي، د سوربیتول په نامه یادېږي، د ینې لپاره ګټور دي او د هغو کسانو لپاره یې ګټه ډېره ده چې د شکرې ناروغي لري. لومړی باید د انسولین د هورمون درملنه وشي، څو خپل فعالیت پیل کړي، له هغو خوړو باید ډډه وشي چې ډاکټر یې د نه خوړو سپارښتنه کوي او په ورځني ډول ورزش ته وخت ځانګړی شي. د شکرې ناروغي په خپله بیا دوه ډولونه لري، چې د دویم ډول نښې نښانې او درملنه بیا د لومړي ډول په پرتله توپیر کوي.

که د شکرې ناروغي پرمختللې شي، کېدای شي ډېرې ستونزې را منځته کړي، چې ځینې یې په دې ډول دي: لومړی خو د سترګو د شاوخوا رګونه تخریبوي او په راتلونکي کې د دې لامل کېدای شي، چې سترګې خپله دنده پرېږدي او ړندې شي.